هدایت الله هدایت
۲۰۱۰، د جنوري ۵ مه

## د نړۍ د وتلو رسنیو اوورځپاڼو پېژندنه (۲) AP

## د اسوشیېټډ پرس خبري آژانس

Associated Press

په تیرو برخو کي د رسنیو د پېژندني په دې لړ کي د چارلز اګوست هاواس په باره کي څه وویل سوه چي په فرانسه کي یې د هاواس د خبري آژانس اساس کېښېښود ، همدغه بیا را وروسته د فرانسپرس د خبري آژانس په نامه و نومول سو ، ورپسې په لندن کي دجولیوس رویټر په هکله خبري وسوې چي په انګلستان کي یې د رویټرز د خبري آژانس خښته کېښېښودله او په جرمني کي هم د برنارډ وولف خبري آژانس تأسیس سو . په دغه برخو کي د هغوی د کار اوفعالیت په باره کي چي درې سره په ختېځ یهودان وه ، یو څه خبري وسوې . دغه تللي ښاغلي په خپل وخت کي لومړني خلک وه چي خبري آژانسونه یې په خپلو نومو باندي ثبت کړل . په نړۍ کي ددې خبري آژانسو د تأسیس د مهاله څخه تر اوسه څه باندي یو نیم سل کاله تیریږي چي د خبرونو د تهیې او د مالي او سیاسي پلوه د هغوی د عرضې ګټندویه عرصې د هغوی د سرمایې د سرغنه وو په انحصار کي پاتي دي.

خو د اطلس د اوقیانوس ها خواکي امریکایان هم لاس تر زني لاندي نه وه ناست د مورس د ټلګراف اختراع، په شمالي امریکه کي د الکټریکي او تلګرافي پیغام لېږلو او د اړیکو د راکړې ورکړې په عرصه کي هم یو انقلاب راووست. ددې انقلاب لومړنی تأثیر په نیو یارک کي د پنځو سیالو مشهورو ورځپاڼو د شراکت د تازه کار پیل وو. دغه ورځپاڼې دامریکا او مکسیکو د جګړې په جریان کي دخبرو د پوښښ د پاره او همدا رنګه د اروپا څخه د خبرو د ترلاسه کولو په خاطر د میلادي کال ۱۸۴۸ د مې په میاشت کي په خپلو کي سره شریکي سوې او د هغه په نتیجه کي یې د اسوشیېټډ پرس خبري آژانس (Associated Press) چي مخفف یې AP دی، مینځته راووست. دغه آژانس د دو درو لسیزو په موده کي په ډېره بېړه سره د نړۍ په خبري عرصه کي ځان تثبیت او دادی نن یې د ځانه څخه په نړۍ کي د رسنیو تر ټولو لوی او بانفوذه رسانه اي غول جوړ کړی دی.

د هغه را هیسې لسیزو کي په نړۍ کي نور لوی آژانسونه هم و میدان ته را ووتل چي د هغو په کتار کي د یونایټډ پرس انټر نشنل او په پخواني شوروي اتحاد کي د تاس آژانسونه هم و زیات شهرت ته ورسېدل چي بیا وروسته یې د مختلفو وجوهاتو په خاطر سقوط وکړ. البته د هغه په اړه به بیا په راتلونکي برخو کي یادونه ورکول سي.

آسوشېټډ پرس دغه د شریکو ورځپاڼو تعاوني خبري شرکت؛ په هغه وخت کي په نظر کي (۱۸۴۸) درلوده چي د اروپا د قارې څخه د خبرو د راټولولو دپاره د ګټې یوه همآهنګه پروژه پلې کړي. تر دې د مخه به چي کله مسافران د اطلس د اوقیانوس څخه ځان را پوري واهه ، بحرونه به یې لاندي کول نو کله به چي د امریکا و بندرو ته راورسېدل، ددوی څخه به د نیویارک ښار د دغه ورځپاڼو د خبریالانو لخوا په جلا جلا توګه لیدنه کېدله

او د هماغه پخوانیو باخبره کوترو په ځېر به یې کار ځیني اخیستنه د هغوی د قوله څخه به یې د اروپا د قارې تازه خبرونه را ټولول .

د تلګراف په کارېدلو سره اسوشیېټډ پرس د لومړي ځل د پاره په کال ۱۸۴۹ م کې د بهرنیو خبرو دپاره خپله اداره د بحر په ها خوا هالیفاکس کې په دې هدف افتتاح کړه څو د ځان څخه به په شرق او غرب کې د خبري آژانسو په څلور لارې کې د سرمایه دارانو لوی ویاند جوړ کړي. دغه آژانس لکه څنګه چې اشاره ورته وسوه د څو مشهورو ورځپاڼو د شراکت یوه مجموعه وه چې د آژانس اصلي مالکین ګڼل کیږي ، په کال ۱۸۶۱ م او د کورنۍ جګړو په دوران کې کله چې د جګړې پر خبرونو باندې شدید سانسور لګېدلی وو نو د AP خبریالانو او ګزارش ګرانو به بېله دېنه چې خپل نومونه یاد کړي ، خبرونه او ګزارشونه به یې مخابره کول او د خبر په پای کې به یې یوازې لیکل « د اسوشیېټډ پرس» لخوا . خو په واقعیت کې دا د هغه وخت د سرمایه دارانو د عصري شراکت نوي موډلونه وه چې د عمل و صحنې ته داخلېدل.

د نونسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې پورته یادې سوي رسنۍ د اسوشیېټډ پرس په ګډون د هغه وخت د رسنیو پېش آهنګه آژانسونه وه چې د خپل ابتدایي خو چټک مسیر په وهلو سره یې نن هم دادی په ډېرو پېچلو او غولپیکره نهادو او شبکو باندې ځان اړولی دي . دغه رسنیو نن د تکنالوجیکي د پرمختللي لاسته راوړونو په کارولو سره د ټولې نړۍ د خبري سیستم نبض په لاس کې نیولی او پر هغوی باندې تسلط لري. دغه نهادونه په واقعیت کې په تیرو دوو پېړیو کې د اروپا او امریکا د استعماري دوران د سیالیو زېږنده وه چې تلاښ یې کاوه د خپل اقتصادي او سیاسي نفوذ لاندې سیمو کې خپلې خبري د ګټو شبکې پراخې او هغه هرې خواته و غزوې.

د اسوشیېټډ پرس خبري آژانس نن خپل ۴۱۰۰ کارمندان د نړۍ په ۲۴۰ بیوروګانو کې مصروفه ساتلي د ي، په ۱۲۱ هیوادو کې خپل فعال دفترونه لري چې د دې خبري آژانس خبري او تصویري متنونه پکښې تهیه کیږي او خپریږي، ۵۰۰۰ راډیویي او ټلویزوني شبکو ته خپل مواد لیږي، ۸۵۰ خبري راډیو ګاني . ۵۵۰ نړۍ واله رسنۍ د اسوشیېټډ پرس د ګلوبل ویډیویي، خبري، سپورتي او هنري توکو څخه ګټه اخلي ، په ټوله نړۍ کې د اسوشیېټډ آژانس د ۴۱۰۰ کارمندانو د جملې څخه چې اډېټران، مخابره چیان او اداري پرسونل دی ۳۰۰۰ تنه یې خبریالان او ژورنالیستان دي . د AP د خبري آژانس د ګزارشو څخه یوازې د امریکا په دننه کې ۱۷۰۰ ورځپاڼې او د ۵ زرو نه زیات راډیویي او ټلویزوني شبکې استفاده کوي.

د اسوشیېټډ خبري آژانس نن پرتیراژ ترینه ورځپاڼې او د امریکا پنځه مشهوري او ډېرو لوستونکو ډکې سیمې تر خپلې اداري او سلطې لاندې را وستې دي . دغه آژانس په کال ۱۹۰۰ کې خپل ځان د یوه عظیم او سراسري شرکت په حیث تبدیل کړ چې یهودي میلیاردران یې د سرمایې او ادارې پر لویه برخه تسلط لري.

د AP خبري آژانس په پنځو انګریزي، هالنډي، فرانسوي او هسپانوي ژبو خپل خبري ګزارشونه خپروي اود سیاسي خبرونو نه علاوه د مشهوره ډاو جونز Dow Jones د شرکت سره هم اقتصادي او مالي خبرونه عرضه کوي. ډاو جونز د وال سټریټ ژورنال (Wall Street Journal ) د ورځپاڼې خپروونکی او د امریکا د اقتصادي خبریالۍ په عرصه کې د دې هیواد د مالي قدرتمندانو د اصلي کړیو څخه دی .

AP په ۱۹۴۱م کال کي خپله لومړنۍ راډيويي ستېشن فعاله کړ، په ۱۹۸۰ کي د AP راډيويي شبکه لومړنۍ راډيويي شبکه وه چي د سټلايټ د لاري يې خپلي برنامې خپرې کړې . په ۱۹۹۵ کي يې د خپلوڅو رسنيو د خدماتو د مجموعې څخه انټرنټي پاڼه را وايستله . د AP په دغه انټر نيټي پاڼه کي خبرونه، عکسونه، ږغي ، تصويري ويډيو ګاني، تبصرې او نور په سلهاوو مطالب خپرېږي.

په ۱۹۹۴ کي اسوشيېټډ پرس، په لندن کي خپل نړۍ وال ويډيويي خبري سرويس د APTV په نامه په کار واچاوه چي بيا را وروسته په ۱۹۹۸ کي يې د APTN (Associated Press Television News)په نامه واړول سو . دا په دې خاطر وو چي آسوشيتد پرس، د WTN ويډويي آژانس د هغه د اصلي شرکتو د خاوندانو څخه چي د ABC او د انګليسي ITN او د استرليا د ۹ کانال خبري شبکې وې، دهغوی څخه را نياوه.

په ۱۹۹۳ کي د يونايټډ انټرنشنل پرس د خبري آژانس په سقوط سره ، اسوشيېټډ خبري آژانس په امريکا کي يوازنی مشهوره آژانس پېژندل کيږي. د غه آژانس نن د امپرياليستي نړۍ د اطلاعاتو د سيستم د ملا تير جوړوي چي په زرهاوو ورځپاڼو ، راډيو ګانو، ټلوېزونو او د آنلاين و مشتريانو ته په نوي ميتود خبرونه او مطالب وړاندي کوي . اسوشيېټډ پرس خبري آژانس ترټولو ورزيده او مبتکره ژورناليستان پر خپل ځان راټول کړي او په کار يې ګمارلي دي . د خبرو په تهيه کولو کي ددې آژانس د خط وکتابت شېوه په ټوله امريکا کي د يوې الګو په حيث يادېږي

د رسنيو دغه خبري آژانسونه نن د نړۍ په هر کونج کي فعال خبري او مطبوعاتي حضور لري او خبره يې تر هرځايه پوري رسيږي، دغه رسنۍ نن تر هغه ځايه د نړۍ پر خبري حالاتو ځان برلاسي کړی دی چي کولای سي هره لحظه په يوه خبري شوک سره د ډېرو هيوادو بېخ و بنياد ور ولړزوي . دا چي نن د غربي آژانسو څخه په دې خاطر سرټکول کيږي چي دوی ددريمي نړۍ په هيوادو کي د ملي او آزادي بخښونکي جنبشو خبرونه تحريفوي او يا واقعيتونه هغسي چي دي نه بيانوي، دا بلکل يو حقيقت دی او دهغوی په ماهيت هرڅوک پوهيږي. دلته په نړۍ واله سطحه د استعماري تسلط هغه حوزې چي پرون به د سربازانو په يرغل سره فتحه کېدلې، نن. البته زموږ د هيواد افغانستان غوندي د ځينو نورو هيوادو څخه ماسېوا چي مخامخ جګړه پکښې روانه ده ، د نړۍ په نورو هيوادو کي و داسي سربازانو ته اړتيا نه ليدل کيږي . دهغوی سربازان همدغه پرمختللی رسنۍ دي چي خپل اقتصادي، فرهنګي، سياسي او په خلکو کي خپل رواني اهداف پرمخ بيايي. دلته د پوځ پر ځای د رسنيو ددغه اهرمه څخه استفاده کيږي او تلاښ کوي د ولسو پر عقايدو، دود ودستور او د هغوی پر باورو او تر مځکي لاندي د هغوی پر ثروتو باندي هجوم ور وړي او دعمومي افکارو و لوري ته دخپلو غوښتنو مطابق شکل ورکړي. په دې توګه اطلاعاتي استبدادي تهاجم ته په ملي او بين المللي سطحه عملي جنبه ور کول کيږي.

نوام چامسکي د امريکا وتلی ليکوال، سياست دان، منتقد او د امريکا د« ايم آی ټي» د پوهنتون استاد په دې باور دی چي هغه څه چي د امريکا د ډله ائزه رسنيو په خبرو کي سته،« هغه يو هدايت سوی خبري بازار دی، نه يو آزاد خبري بازار.» د جورج ګرينر څېړنه ښيې چي خبري سلطه ددې باعث ګرځي د دريمي نړۍ د پرمختياوو په اړه خبرونه هيڅکله هم مخابره نسي. هغه تصويرونه چي د رويترز او اسو شيټډ پرس غوندي رسنۍ د دريمي نړۍ هيوادو څخه وړاندي کوي نو هغوی داسي ښودل کيږي چي دلته يو دم خشونت ،وحشت، بربريت، بې نظمي ، د

بشر حقوقو نقض او بې منطقي حکمفرما ده. حال دا چي دغه څه که دلته ظاهرېږي د هغوی تر شا همدغه استعماري غربي هيوادونه ولاړ دي.

نن چي د امريکا ډله ائزه رسنۍ او د هغې جملې نه د اسوشيېټډ پرس خبري آژانس د کار او فعاليت اندازې ته ځوک ګوري نو درست د دغه لاندي خبرو عملي کردار پکښې منعکس کيږي :

« ډيويډ روتکوپ » (David Rothkopf) چي د کيسنجر د مؤسيسې اجرايوي مدير ، د کلينټن د دولت وتلی کارپوه او دکلمبيا په پوهنتون کي د نړۍ والو په چارو کي د لوی منصب خاوند وو ، د امريکا د ملي امنيت اود قدرت په هکله زياتي تحليلي او ستراتيژيکي مقالې او ډېر نور آثار لري، هغه وايي « د اطلاعاتو په طلايي عصر کي؛ د امريکا د بهرني سياست دپاره يو بنيادي هدف پر خپل ځای پروت دی او هغه دا چي د نړۍ د اطلاعاتو په دغه اوسني جرياناتو کي بايد زموږ د جګړې بری تثبيت سي، يعني د رسنيو پر امواجو باندي زموږ حاکميت بايد داسي وي لکه برتانيا چي د دريابو پر امواجو باندي حاکميت درلود. »

هغه زياتوي «که قرار داوي چي نړۍ د يوې ګډې ژبې د درلودلو پر خوا رهي سي نود امريکا اقتصادي او سياسي ګټه په دې کي ده چي اطمينان حاصل کړي هغه ژبه بايد انګرېزي وي ، که قرار داوي چي دليرو لارو څخه اړيکي ايمني معيارونه او ګډ کيفيت ولري نو هغه سټنډرډونه بايد امريکايي سټنډرډونه وي ،که د نړۍ ملتونه د ټلوېزيون، راډيو او موسيقۍ دلاري يو تر بل سره ګډې اړيکي پيدا کوي؛ نو دا بايد د امريکايي برنامو د لاري تر سره سي او که بيا ګډ ارزشونه ايجاديږي نو په هغه کي بايد دا امريکايان وي چي له دې بابته يې خيال بلکل راحت وي.»

روتکوپ ،دغه د نړۍ والو اړيکو استاد و خپلو هدفو ته د امريکا رسېدنګ لا نوره هم لوڅوي او وايي : امريکا بايد خپله وجهه پر مخ بوزي. د اطلاعاتي عصر د وسايلو څخه چي ددې کار دپاره يې بې له شکه تر ټولو سوله ائزه او د امريکا د ګټو د غزولو د پاره تر ټولو قدرتمنده وسيله ده، بايد کار واخيستل سي. د امريکا متحده ايالات د نړۍ د اطلاعاتو ټرافيک او ايډياوي بايد په خپل تسلط کي ولري. موږ بايد په نړۍ واله عرصه کي د خپلو نوظهوره او اطلاعاتي شبکو او دهغوی د اهميت په ژورتيا بايد وپوهېږو او دهغوی د بالقوه ارزښت اهميت بايد راته مالوم وي... .

د امريکا رسنۍ و خپلو خلکو ته دا خبره نه رسوي چي ددوی په نامه او ددوی په پيسو د امريکا نظام په نړۍ کي په څه فجايعو او وحشي ګريو اخته دي، څه وطنونه لاندي کوي او څه جنايتونه تر سره کوي. خو زموږ د هيواد په څېر هغه خلک او ولسونه چي ددغو فجايعو سره لاس او ګرېوان او د هغوی د اهدافو قرباني او د ژوند په هر پل کي يې ژوندي شاهدان دي په دې ښه پوهېږي او د هغوی خاطرې يې هم تر سترګو تيريږي او هم يې هره ورځ ويني چي امريکا څه رنګه د انسان او انساني حقوقو په نامه پر هغوی باندي د بربريت او وحشت ځپې خوروي او همدغه رسنۍ بيا څرنګه ددغه فجايعو اهميت کم او د خبرو په ګرداو کي يې ورکه وي او يا داچي پرهغو باندي د عارفانه تجاهل پرده غوړوي او تله ورباندي تېروي.

په خواشینۍ سره باید وویل سي چي د افریقا د قارې ۱۵ هیوادونه، دلاتیني امریکې ۱۱ هیوادونه او د آسیایي هیوادو څخه ۷ د همدې آژانسو څخه عینا هماغه خبرونه خپروي چي دغه رسنۍ یې غواړي ددې هیوادو د خلکو په ذهنیت کي ور ننوزي، همدغه وجه ده چي دد ریمي نړۍ په هیوادو کي د غربي رسنیو تبلیغات د عمومي افکارو په جوړښت او تشکل کي خپل نقش لوبوي او کار کوي.

په دې توګه ده چي په امریکایي نظام کي رسنۍ د استعماري ګټو پر لوري ګام ایږدي او د هیوادو پر پرګنو باندي د خپل هیواد د حاکمي طبقې د کنټرول یوه وسیله ګرځي. دغه طبقه لکه څرنګه چي پر مادي تولیداتو باندي تسلط لري او هغه یې د ځان په ګټه پخپل اختیار کي را وړي دي، همداسي غواړي د رسنیو د لاري د انسانانو پر فکري ماحول او تولیداتو باندي هم همداسي تسلط ولري ؛ هغه ته لورى ورکړي او د تولید، توزیع او مصرف اندازه یې پخپله ور وټاکي.

د اسوشیټېډ پرس غوندي خبري آژانسونه هم بس د همداسي یوه لوري په لور لاره وهي...

یادونه:

ددې څېړنیزي لیکني په ترتیب کي ما دخپلو یاداښتونو او ددغه لاندي ویب پاڼو نه استفاده کړېده:

http://www.ap.org
http://en.wikipedia.org/wiki/Associated_Press
http://en.wikipedia.org/wiki/David_Rothkopf
http://www.ap.org/pages/about/about.html